

# د سولې سفر

دوهمه کيسه

دوهم چاپ

# د بي بي جان هوښياري


ليکونکي:

ماری- جو لند
داکتر جوانا سناتا باربارا
داکتر گرایم مک کوین
کیون آرتر لند

ديزاين: يار محمد تره کي
*انځورکونکۍ : ل. غفوری*

*ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل*



موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**کیسې او د ښوونکي لارښود په لاندې ویب سایتونو کې شته دئ:**

**[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)**

**او**

**[www.htac.org](http://www.htac.org)**

ددې کیسې کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمویل او ژباړل شوی دی.


موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

# د سولې سفر

**دوهمه کیسه**

**دوهم چاپ**

# د بي بي جان هوښیاري


ليکونکي:

ماري- جو لند
داکترجوانا سنتا باربارا
داکترگرایم مک کوین
کیون آرترلند

دیزاین: یار محمد تره کي

انځورکونکۍ : ل. غفوری

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر گرایم مک کوین

ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان



دسولې دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د1388 کال پسرلی

**په کیسه کې ښکیل کسان :**

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجمیلې ۵ کلن ورور

**عبدالله:** دجمیلې ۱۵ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا:** دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنی انا

**غلام کاکا** : دکوچنیانو پلرنئ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنی کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو تروراو د یونس کاکا ځوانه کونده

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي **.**

## د کيسې لنډيز:

جميله له خپلې کورنۍ سره د افغانستان په يوه کلي کې ژوند کوي . هغوي د هيواد په کورني اخ و ډب کي ډيرکړاوونه او ستونزې ليدلي وې او هغه يې لا هيرې شوی نه وي چي يوه بله غمجنه پيښه را منځ ته شوه . يونس کاکا چي په پټي کې يې دبزگرۍ کارکولو، د يوماين د چاوديدو له امله مړشو او پلار يې ،ميرزا ،يوه پښه له لاسه ورکړه.

**"دجميلي سوغات"** په کېسه کې جميله او دهغي کوچنی ورور، احمد، غواړي په دي پوه شي چي عبدالله ولې په قهر دی او ولې ځان گوښی نيسي. هغوي له خپلې انا ، بي بي جان ، څخه دا زده کوي چي عبدالله سره په څه ډول مرسته وکړي تر څو چې هغه د يونس کاکا مړينه هيره کړي . يونس کاکا دهغه ډير نږدي ملگری و.

د بي بي جان د هوښياریٔ په کېسه کې راغلي دي چي هغه په کورنۍ کې ديوې ښې مشاورې رول لوبوي. د عبدالله انديښنه له دې کبله ده چي جنگ د هغه دښوونځي د دوران يوملگري ته خورا سخت روحي گذار ورکړی دي . همدرانگه د جميلې د ويری دک خوبونو راز اود بي بي جان لار ښوونې ، چي هڅه کوي په يوه ښه طريقه د هغوي درملنه وکړي، په دي کېسه کي ځاي شوي دي .

## ددرملنې عنصرونه:

تصويرونه اوروغتيا ښوونکي نخښې ، صميمت ، وده او پالنه ، لوبې او شوخي ، خنديدل ، دآزادیٔ نخښې ، خوښي او امنيت ، سوکالي او مينه

**د سوله ايزه کړو لپاره لارښوونې:** خواري او زيار ، مرسته اوهمکاري ، زړه سواندی ، ملگرتيا ، دميرمن او خاوند ترمنځ توافق ، خواخوږي ، مشرانو ته درناوی ، عاطفي ملاتړ ، دنظر ورته والی ، دينداري ، گټورتيا ، د ښوکارونو ستايل ، غوږنيول ، په شاه ډبول ، مينه ، پياوړتيا او توانايي ، سودا ، پيژندنه

**ستونزې**: د تحصيل آرزو ، تاوتريخوالی ، دسترو او له توان څخه د بهر ستونزو احساس ، تضاد ، دويرې او ډار نښې ، سودا او تشويش ، ذهني مشغولا ، خپسی ، ډار ، د خوب گډوديدل

**درغونې لارې**: پياوړي کول ، په غيږکي نيول او ډاډ ورکول ، رسمول، د خيالونو انځورونه رسمول ، دويرې احساس او ورسره مخامخ کيدل ، اقرار کول ، د ملگري ملاتړ .


دا صفحه سپینه ده

## د بي بي جان هوښياري

جميلې په ډير پام سره باغ ته اوبه ورکولې . دبوټو له منځه يي زيان رسونکي واښه رااېستل او لري يي غورزول . د لمر وړانگو د جميلې ملا ډيره توده کړې وه . هغه د خپل مشر ورور ، عبدالله ، راتلو ته سترگې په لار وه تر څو هغه له ښوونځي څخه بيرته کورته راستون شي.

جميلې غوښتل وگوري که عبدالله له ځان سره کوم نوی کتاب راوړی وي چې ترې وايې خلې او ويې لولي . هغه په دې هيله او طمع هم وه چې عبدالله به ورسره دکتاب په لوستلو کې مرسته وکړي .





د جميلې سترګې دخپل کوچني ورور په پيشو ولګيدې چې هغې دونو له سيوري لاندې لوبې کولې ، ټوپونه او خيزونه يې وهل او دخپل شاه اوخوا پرشيانو ورغوزيده او خاورې يې بادولې. جميلې به ورته کتل او له ځان سره به يې خندل .

.




کله چې عبدالله کور ته راننوت تپوس یې وکړ: " جمیلې ولې خاندې ؟ "

جمیلې به خندا وویل: "د احمد پیشوخیال کوي چې هغه پرانگه ده " جمیلې عبدالله ته ورمنده کړه او پوښتنه یې ترې وکړه :"عبدالله نن وخت لرې چې له ماسره په لیکلو کې مرسته وکړې ؟ تا خوویلي و چې زه به لوست کې مرسته درسره کوم . "

عبدالله په قهر ځواب ورکړ : "جمیلې! ما دمخه درته ویلي و چې فاطمې ترور ته ووایه مرسته درسره وکړي زه باید لاړشم او پسونه څرولو ته بوځم ."

عبدالله په خپله لار رهي شو او جمیله هم ورپسي ورتلله .

جمیلې چې تل به یې له عبدالله څخه د هغه د ملګرو په اړه پوښتنې کولې له عبدالله څخه وپوښتل :"نن دې په ښوونځي کې څه شی زده کړل؟"





عبدالله وویل :" جمیلې ما مه
تنګوه ، زه په خپلو غمونو کي
ډوب یم او ته مي ترشاه را
درومې او پوښتنې کوې . "
عبدالله خپل د کارسامان واخیست
او د کروندې لورته رهي شو .
جمیله هم ورپسې ورتلله . عبدالله
وپوهیده ، ترهغنې پورې چې
خورئې دده دورځینو کارونو په
اړه معلومات ترلاسه کړی نه وي
، پرېښنو دونکې یې نه ده. نوهغه
وویل :



" جميلې سمه ده ، تايوړه ، زما زړه  دخپل ملگري ، قديم ، په اړه خوړين دی. هغه په دې ورځوکې له ماسره ديوپردي هلک په شان رويه کوي . زه نه پوهيږم چې پرهغه څه شوي دي . هغه په هر چا په قهريږي او د هيڅ شي پروانه لري . داسې ښکاري چې هغه ښايي د نورو شيانو په هکله سوچ کوي . "

جمیلې وویل : "مونږ باید په دې هکله له بي بي جان څخه معلومات ترلاسه کړو . بي بي جان پدې پوهیږي چې څرنګه نورو سره مرسته وشي . " کله چې جمیله او عبدالله له انګړ څخه وتل وئې لیدل چي بي بي جان او غلام کاکا دواړه د لرګي په یوه اوږده چوکۍ ناست دي اویوبل سره خبرې کوي . هغوي ډېر خپه ښکاریدل . جمیلې ترې پوښتنه وکړه : " بي بي جانې څه خبره ده ؟ !"

عبدالله هم په وارخطایي تپوس وکړ :" غلام کاکا ! ایا کومه ناوړه پېښه شوېده ؟"

غلام کاکا جواب ورکړ : "د تپې په سر جنګ روان دی ، هغه کورنۍ چې له کلي نه بهر هستوګنه لري ډیرې وېرېدلي دي او سخت پریشانه دي . " عبدالله وویل : زما ملګری ، قدیم ، هم له کلي څخه بهر دهمغې تپې پرسرژوند کوي په دې ورځو کې دهغه په کړو وړو کې ډیر بدلون راغلئ دئ . زه اوس ګمان کوم چې دا بدلون به دده په کړو کې دهمدې جنګ دپیښدو له امله راغلئ وي .

بي بي جان وویل : " ډېروختونه کله چې مونږ وویریږو ، ډول ډول غبرګونونه ښیو.ځینې وختونه له ویریدلو وروسته ژاړو ، ځنې وختونه په قهریږو او ځنې وختونه ځان داسې ښیو چې ګواکې مونږ ویریدلي نه یو . زه فکر کوم چې ستا ملګری ، قدیم ، به له دې کبله چې ددې جنګ په اوږدو کې به څه پیښیږي ، پریشانه وي . "



عبدالله له ځان سره سوچ کولو او په ورو یې وویل : " ماداسې انګیرله چې هغه به په ما باندې غصه وي نو ځکه ما هغه یواځې پرېښود. بیا یې له بي بي جان څخه پوښتنه وکړه : " نواوس څه باید وکړو؟ "

بي بي جان په ډیرې مهربانۍ سره عبدالله ته سترګې ورواړولې او ویې ویل : ,, یو ځوان هیڅکله هم له څه شي نه ډاریږي ، زمونږ هیله داده چې هغه تل زړه ور واوسي . زه فکر کوم چې ستا د ملګري ، قدیم، دا خوښیږي چې ته یې تل دوست واوسې . ته د هغه لپاره ښه ملګری یې اوښایي چې هغه به هم ستا له ملګرتیا څخه راضي وي . هغه یواځیې مه پریږده هغه کورته راوبوله او په ډېره نرمۍ ورسره خبرې وکړه. یوبل سره کښینئ او وچه میوه وخورئ . دویرې او ډار له منځه وړلو یوه ښه لار له ملګرو سره تګ راتګ کول دي . "

غلام کاکا د بي بي جان د خبرو په تائید سره وویل : " تاسو باید یو ځای جومات ته ولاړشئ اوهلته لمونځ وکړئ . دا کار به ستاسو دوستي او ملګرتیا لاپسې تینګه کړي . "

عبدالله وویل :" ستاسو له ښې لارښوونې څخه ډیره مننه ، مګر زه اوس باید لاړ شم اود پسونو احوال واخلم ."

عبدالله ډیرخوشحاله بریښیده، دا ځکه هغه اوس وپوهید چې څرنګه خپل ملګري سره مرسته وکړي .

غلام کاکا وویل : " زه هم باید ولاړشم ، د ماسپښین د لمانځه وخت دئ . "

هغه دخپلې عصا په مرسته له ځایه اوچت شو او ورو ورو د دروازې په لور رهي شو.

جمیلې چې تردې وخته په پټه خوله او آرام ډول دخپلې انا خبرو ته غوږنیولئ وو، مخ یې بي بي جان ته ور واړوه اوتپوس یې ترې وکړ:" بي بي جان ! ایا ته هم کله ویریدلې یې ؟ "

بي بي جان په خندا وویل : ,, هو ! بي بي دې ځارشه . مونږ هم ځینې وختونه له ځینو شیانو څخه ویریدلي یو . جمیلې ! ایا ته هم کله ډاره شوې یې ؟



د جمیلې سترګې له اوښکو دومره ډکې شوې چې د لمر رڼا یې په سترګو کې وځلیده ، په ورو او غمجن آواز یې ځواب ورکړ " ډیرې شپې له ویرې څخه خوب نه راځي کله چې خپل دخوب ځای کې پریوزم ، کوښښ کوم چې ویښه پاتې شم خو هرڅومره چې ترډیروخت ویښه پاتې شم په همغه کچه ډیره ویریږم . "

بي بي جان د جمیلې مخ مچ کړ ، دهغې سترګو ته یې وکتل او تپوس یې ترې وکړ : " لورې له څه شي نه ویریږې ؟"

جمیلې وویل ! " ځنې وختونه خوب وینم چې زه او احمد په پټي کې یو، هلته یو ماین الوزي ، له دې کبله زه د خوب په ځای کي ټکان خورم او له خوبه راویښیږم .

په دغه حالت کې ډېره ډارېږم، مګر کله چیې وګورم زه په پټیو کې نه بلکه د خوب په بستره کې یم خوشحاله شم . " جمیلې په داسې حال کې چې غږیې ورو شو ، سترګې یې رډې راووتې او شونډې یې رپیدلې خپلو خبروته دوام ورکړ ویې ویل : " بیا په بیېره د احمد د خوب ځای ته وروګورم ترڅو ډاډه  شم چې هغه هلته  په خپل ځای کي غلی او آرام ویده دئ . ددې لپاره چې بیا ویرونکی خوب ونه وینم کوښښ کوم چي بیرته ویده نشم ، خو ګورم چي خوب مي وړي او بیا وېرېږم . "

جمیلې داوویل اوپه ژاړه یې پېل وکړاو ځان یې دانا په غیږ کې ورواچاو .

بې بې جان په ډېرې مهرباني سره وویل : " جمیلې مننه چې زه دې د خپلو ویرونکو خوبونو په اړه خبره کړم . کله چې څوک له هغه چاسره چي ورباندې ګران وي د وېرې د لامل او دوېرونکو خوبونوپه اړه خبرې کوي په حقیقت کې دالومړی ګام دئ چې نوموړی یې د خپل ځان د ژرغونې لپاره اوچتوي . زما ډېرې لارې او طریقې زده دي ؛ چې تا سره مرسته وکړم ترڅو ستا ویره او ډاردومره لږ

شي چي حتي احساس يې هم ونه کړې ." جميله د بي بي جان له خبرو پوه شوه چې هغه غواړي له دي سره يې وخت په خوښۍ تيرشي .

بي بي جان جميلې ته وويل : " جميلې !اوس زما عصا واخله ، يو داسې هولناکه ځناور انځور کړه چې تراوسه ستا ذهن کي گرځيدلی وي ...

ډيرښه ، اوس سم شو ، ځومره ستر ، بدهيبته او ويرونکی دی . هغه ته بد شکله ښکرونه او غاښونه هم ورکړه ...هو ډير ښه اوس زه باور لرم چي ددي ځناور خوله به ډير خوسابوي هم لري ؛ جميلې اوس هغه په لغته ووهه ... ډيرښه، اوس دې وليدل چې هغه ډاره ونکی ځناور له منځه ولاړ. تا پخپله هيولا جوړه کړه او پخپله دې له منځه يوړه ...

اوس ددې لپاره چې له ويرې څخه ځان وژغورې همداسې هيولادې په ذهن کې جوړه کړه ! " دجميلې په ځيره کې غم او خپگان ښکاره شو.

بي بي جان بيا وويل :" ته کولی شې هغه جوړکړې او بيرته يې له منځه يوسې . کوښښ وکړه ! "

جميلې د يولوی انفجار پيښه په ځمکه رسم کړه ، گرد چاپيره يي ترې اوږده او تاو شوي سيمان وکښل او ويې ويل : "بي بي جان ! دا زما خوبونه او ويرونکي خيالونه دي . "

بي بي جان وويل : " ډيرښه! جميلې دغه تصوير د يو ويرونکي خيال څخه استازي توب کوي ."

بيايې په وياړ او باور سره وويل : " اوس دابالکل يوې هيولاته ورته دئ ، اوس يې خله اوتر هغې پورې پرې وخيژه چې په بشپړه توگه له منځه لاړه شي . افرين ، ډېره ښه دې ويجاړه کړ. "

جميلې وويل: " فکر کوم چې زماویرونکي خوبونه بیخې له منځه ولاړل ، غواړم د بل ځل لپاره بیا دا کار وکړم.

جمیلي د ماین دانفجار یوه بله لویه پیښه له یو ستر ډارونکي احساس سره انځور کړه او بیا په پښو پرې وختله ، ګډه ډه او ویجاړه یې کړه .

بي بي جان وويل : " اوس خپل ځان او احمد داسي انځور کړه چې خپل د خوب په بستروکي آرامه ويده ښکاره شئ . يواځې دخپل ځان کوچنی تصویروباسه ځکه مونږ غواړو هغه تصویر پرځای پریږدو چې هر څوک یې ويني . که دې وليد چې هغه باران ورئ او ويجاړ کړئ دئ ، بيا يې رسم کړه .

يا پر هغه وړې وړې ګټې کيږده ترڅودډير وخت لپاره جوړپاتې شي بيا هغه د کاغذ په يوه پاڼه رسم کړه او مورته دې وروښيه ؛ او جميلې که ته د شپې وډاره شوې زما لاس کېکاږه ؛ زه به درته ووايم چې په ما ګرانه يې او ته ماسره په امن کې پرته يې."

جميلې په چټکۍ سره وړې، وړې تيګې راټولې کړې او بيا يې هغه تيګې د خپل او احمد په تصويرونو کيښودلې . ددې کوچنيو ګټوپه ايښودلوسره ددوی تصوير خندنی څرګندېدلو . هغې د تصويرونو څخه ګرد چاپېره هم تيګي کيښودې چې نور خلک هم هغه تصوېرونه ويني او وخاندي .

*******